Date: ________ M T W T F S S

ګه

# خوشحال خان خټک

سوال: که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه

(2021)

د دغه شعر په رڼا کښې د خوشحال بابا د علمي کارنامو جائزه واخلئ۔

جواب: سے چې کوشش کړه په اخلاص زه ئې ضامن یم
که کامران په خپل مراد نه شي سړې

په پښتو ادب کښې خوشحال خان خټک د ټولو نه همه ګیر
شخصیت دے۔ خوشحال بابا شاعر هم وو ادیب هم، امیر
هم وو فقیر هم، د توري ډال سره ئې هم دوستي وه
او د چنګ و رباب سره ئې هم مینه وه، د کتابونو
پاڼې ئې هم ډکولې او د ښکار شوق ئې هم وو، د
ژوند داسې اړخ نشته او نه د ادب داسې
څانګه شته چې خوشحال خان په یکښې پښتو ژبه
د نورو ژبو سره سر په سر نه وي دروړې،
حقه داده چې په پښتو شعر و ادب د خوشحال بابا
ډیره احسان دے دومره د بل چا نشته۔
خوشحال خان بابا د نورالدین اکبر په زمانه کښې په
سرائې اکوړه کښې د شهباز خان کره په کال
۱۰۲۲ هجري زیږیدلے وو۔
خوشحال خان بابا د نورو په سوري کښې پیدا شو
او د نورو په سوري کښې لوئ شو لکه چې وائي

له په خوب کښې په لانزه پریوځي له کړه ✓
چې د چه نرغونډ زما د توري شرنګ دے
که په دور مې ګوري هغه زه یم
چې مې داغ په خاطر ایښې د غورزنګ دے

SUPREME PAPER PRODUCTS

خوشحال

په دې شعر کښې رحمان بابا وائي چې چا
هم زمانه توري آواز اوریدلے دے نو
حقله په خوب کښې هم د ویرې دوچے
په لرزه شي۔

نو دې نه ثابته کیږي چې خوشحال بابا
خومره بهادر انسان وو او څومره جنګجو مزاج
ئې وو۔ خو دے سره سره خوشحال بابا د
مطالعې سره هم ډیر شوق وو۔ د ده په قسمت
بو ډیر لوے عالم، شاعر او ادیب جو ډیر بدل
لیکلي شوي وو۔ د دې علم زیات تر د ذاتي
مطالعې، تجربې او مشاهدې نه حاصل شوي
وو۔

که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بے حسابه

خوشحال خان بابا په خپله شاعرۍ کښې رزم، بزم
اخلاق او تصوف، مدح او هجو، مثنوي، قصیده،
غزل، رباعي، قطعات غرض هر صنف او هره
موضوع خپله کړې ده۔ ~~حسې~~ ~~خو~~ خوشحال
بابا هر صنف کښې ښه کمال ښودلے دے۔

ابنا علي دوست محمد خان کامل صیب په خپل
کتاب (خوشحال خان خټک) کښې لیکي چې
د خان علیین مکان شاعري جامع ده۔ د
انساني فکر شاید چرته داسې اړخ نه
وي چې ده ئې په شاعرۍ کښې عکاسي
نه وي کړې۔

Date: ____________

M T W T F S S

ښاغلي صدیق الله رښتین په خپله مقاله (د خوشحال پېژندګلو) کښې لیکي چې (خوشحال هیڅ ډول مضمون نه دی پرېښي حقیقت يې د مجاز سره و نښلاوه- عشقي، بزمي، اخلاقي، وطني، ملي، فلسفیانه، صوفیانه، حماسي، رزمي او نور هر راز مطالب يې د شعر په جامه کښې و تغزل د هر چا د ذوق د پاره يې د خپل شعر باغ و بڼ د رنګارنګ ګلونو نه ډک کړو)-

توره چې تېره پرې خو غوڅار لره کړنه
او زلفې چې وَل وَل شي نو خپل یار لره کړنه
څه له راته وايې چې په ښکلو نظر مه کړه
سترګې چې پیدا دي خو دیدار لره کړنه

د خوشحال بابا د شاعرۍ ښکاره اړخونه درې دي، رزمیه، بزمیه او اخلاقي شاعري-

رزمیه شاعري مطلب د خوشحال بابا قامي او وطني شاعري د هغه د ادبي اثارو یوه ډېره اهمه او امتیازي برخه ده د هغه د کلام دا برخه که یو خوا د پښتو او مغلو د سیاسي کشمکش د تاریخ یو اهم باب دی نو بل خوا د پښتو د تمدني او معاشرتي حالاتو بیان او د هغو تنقید او تبصره هم ده-
د مثال په توګه دا شعرونه.

هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته ډېر ارمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

Date: ____________ M T W T F S S

د خوشحال خان بابا په شاعرۍ کښې د جذباتو
بې پناه زور، هیجان او طوفان او ډیر زیات
خلوص ښکاري ځکه خو که خوشحال خان بعضې
وخت پښتو ته بدې ردې او کنځل هم وکړي
نو په سرې بدې نه لیږي ځکه بې دا ترا ځه
د پښتو د غرض ترجره خواږه هم لري ـ

چې مغلو ته مې وتړله توره
درست پښتون ورته ښکاره کړه
اتفاق په پښتو کښې پیدا نه شو
کنې مه به د مغل ګریوان پاره کړه

رحمان خوشحال بابا د پښتو د بې اتفاقۍ خبره کوي
چې که چرې پښتو کښې اتفاق وې نو
مه به د مغلو ګریوان پاره کړې وې
یعنې مغلو له به مې شکست ورکړې وې ـ

یو بل ځائے کښې لیکي
ما دولت د رته په توره وه ګټلې
ته زما د تورې نقشې اوره کړه

دے ته معلومیږي چې دے د پښتو د ترقۍ
خوشحاله او خپلواکه ډیر ارماني وو ـ

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالے د زمانې خوشحال خټک یم

Date: ____________ M T W T F S S

نه به زما غوندې بل ننګیالی راشي
نه به زما غوندې بل ځنګیالی راشي
خټک له پېړیو په درست جهان کښې
عجب که هسې رنګ پر ننګیالی راشي

د خوشحال خان خټک د قام او وطن سره د بې کچه مینې په دې نه زیات بل څه ثبوت وي چې قام او وطن اخلي او خپل خوی غورځوي او پردعائي ور ته کوي لکه چې د هغو خوي پاره کښې وائي۔

هسې کور ته شه روان
لکه عاق دے عاق دې پدر وجې
دین دنیا دواړه خسران

تر لکه چې خوشحال خان یو جامع شاعر او ادیب دے د هغه رنګ د دے اخلاقي شاعري هم ډیره جامعه ده او د اخلاقیاتو په هر اړخ ئې خیال او فکر کړي دے۔
خوشحال خان خټک په نزد هغه خوله هرو خوږه نه ده چې دروغ ترې راوځي لکه چې وائي۔

چې دروغ ترخولې وباسي که خوله ده
چې رښتیا ترخولې وباسي خوله هغه ده

د منت وړلو هم خلاف دے۔

د منت دارو که مرهم پکار مې نه ده
که علاج لره مې راشي مسیحا هم

د خدائې د مخلوق نیکخواهي هم د خوش نصیبي نښه ګڼي۔

چې د خالق تیکاو اخې لري په زړه کښې
مبارک شه بادشاهي لري په زړه کښې

د همت او خپل مقصد پوره کولو دپاره وائي

ترمطلوبه پورې شرط په رسیدو دي
که تمام لاره په وینو شي الوده

یعنې که هر څومره سختې او مشکلات درته په لار کښې راځي خو خپل سفر به جاري ساتي ترڅو پورې چې خپل منزل مقصود ته ورسي۔

د خوشحال بابا د شاعرۍ لو بنکاره اړخ عشقیه شاعري هم ده۔ د عشقیه شاعرۍ لو خصوصیت د دے چې د محبوب په ستائنه او د خپلې مینې په اظهار کښې هم خپل ځان نه غورځوي بلکه خپل لوړ او اوچت شخصیت څرګندوي لکه څنګه چې وائي

زه خوشحال کمزوري نه یم چې په هر دار کړم
په بنګاره تغرې دهم چې خوله ئې راکړه

یا به سر د خپل ورمیګ په وینو رنګ کړم
یا به ښکلي کړم د ستا سترګې ملوکې

دا دي نه معلومیږي چې عاشقي کښې بزدلي او کمزوري ته قربوي۔

خوشحال بابا ډیر زیات کتابونه هم لیکلي دي
چې یو څو یې: دیوان، دستار نامه، فراق نامه
باز نامه، فضل نامه، سوات نامه، زنځیریه
(د پښتو لوري په څنګه لیکه) بیاض تاریخ، آئینه
فراق نامه، فرخ نامه، طب نامه (د اکثرو)

نه دي حقیقت ته هر کز انکار نه شي کېدی
چې د څلور سوو کالو تېریدو نه پس
هم چې د ژوند په هر میدان کښې ګامې
ترقي شوې ده تاریخ لا د خوشحال
بابا په شان جامع، همه ګیر او نابغه
شخصیت تر ننه و نه لیدو مذهب دی که
سیاست، طب دی که ښکار، توره ده
که قلم، نظم دی که نثر لو هم د
خوشحال بابا ته نه دی پایاب -

نه به زما غوندې بل زنګیالي را شي
نه به زما غوندې بل جنګیالي را شي
فلک له به پیدا په درست جهان کښې
عجب که هسې رنګ پرهنګیالي را شي